د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 498**

(13 - 19 لړم 1404 هـ ش)

## د هند او متحده ایالاتو ترمنځ دفاعي تړون، پر سیمه او افغانستان يې اغېزې

---



دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- د هند او متحده ایالاتو ترمنځ دفاعي تړون، پر سیمه او افغانستان یې اغېزې ............................3
- د هند او متحده ایالاتو د دفاعي او امنیتي اړیکو مخینه ....................................................3
- د تړون موخې ...........................................................................................5
- پر سیمه یې اغېزې .........................................................................................5
- پر افغانستان یې اغېزې ...................................................................................7
- پایله ..............................................................................................................8
- وړاندیزونه .......................................................................................................8
- مأخذونه ..........................................................................................................9


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د هند او متحده ايالاتو ترمنځ دفاعي تړون، پر سيمه او افغانستان يې اغېزې

### سريزه

د سړې جګړې پرمهال د جنوبي اسيا په اړه د امريکا متحده ايالاتو بهرنی سياست امنېتي محوره و او يوازې د شوروي اتحاد او کمونيزم پر وړاندې د مبارزې د ډګر په سترګه يې ورته کتل او دا چې هند د شوروي اتحاد متحده و، نو له همدې امله يې له متحده ايالاتو سره اړيکې سړې وې .له سړې جګړې وروسته د جنوبي اسيا په اړه د متحده ايالاتو بهرني سياست بدلون وموند او د پاکستان پرځای يې هند ته مخه کړه او غوښتل يې چې له هند سره قوي اقتصادي او ستراتيژيکې اړيکې رامنځته کړي، خو په ۱۹۹۸ز .کال کې د اتومي وسلې له امله يې يو ځل بيا ورسره اړيکې خرابې شوې او په ۲۰۰۵ز .کال کې د ستراتيژيک پارټنرشپ د تړون له لاسليکېدو وروسته دغه اړيکې ببرته ورغېدو، خو په ۲۰۱۸ او ۲۰۲۵ز .کال کې د ټرمپ له لوري پر هند د سوداګريزو تعرفو لوړول او د هند له لوري غبرګون د دې لامل شو چې دغه اړيکې يو څه سړې شي، د همدغو اړيکو د بيارغونې په موخه د دواړو هېوادونو ترمنځ د ۲۰۲۵ز .کال د اکتوبر پر ۳۱مه نېټه د جمعې پر ورځ د دفاعي همکاريو لس کلن تړون لاسليک شو .په دې تحليل کې د دغه تړون پر اهميت، موخو او پر سيمه او افغانستان يې پر اغېزو بحث کوو.

### د هند او متحده ايالاتو د دفاعي او امنيتي اړيکو مخينه

د سړې جګړې پرمهال هند د شوروي اتحاد متحد و او له همدې امله يې له متحده ايالاتو سره په دفاعي برخه کې همکارۍ او اړيکې نه درلودې، له سړې جګړې وروسته د متحد ايالاتو او هند اړيکې ورغېدې، خو دفاعي برخه کې همکارۍ کمزورې وې، په ۲۰۰۱ز .کال کې د سپتمبر له پېښې وروسته متحده ايالاتو په جنوبي اسيا کې نظامي حضور پيداکړ او د حالاتو له يو څه کنټرول وروسته يې په ۲۰۰۴ز .کال کې له هند سره د اتومي پروګرام په اړه مذاکرات پيل کړل او په دې مذاکراتو کې دواړه لوري هوکړې ته ورسېدل تر څو له يو او بل سره به په درېيو برخو کې همکاري وکړي:

۱ -د ملکي اهدافو لپاره د اتومي فعاليتونو ترسره کول؛

۲ -ملکي فضايي پروګرام؛

۳ -او د لوړې ټکنالوژۍ سوداګري.

دواړو لوريو دې نوې همکارۍ ته د ستراتيژيکې ملګرتيا راتلونکي ګامونه (NSSP(Next Steps to Strategic Partnership)) نوم ورکړ او د همدې ستراتيژيکې ملګرتيا په دوام په ۲۰۰۵ز .کال جولای مياشت کې د

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

امریکا متحده ایالاتو جمهور رئیس جورج ډبلیو بوش او د هند لومړی وزیر من موهن سېنګ په امریکا متحده ایالاتو کې دوه مهمې هوکړې لاسلیک کړې، چې یو د امریکا متحده ایالاتو له لوري پر هند د وسلو د پلور او بله د اتومي همکارۍ وه[1].

د اتومي همکارۍ تړون په ۲۰۰۸ز .کال د اکتوبر پر لومړۍ نېټه د امریکا متحده ایالاتو کانګرس له لوري نهايي او تصویب شو .د دې تړون پر بنسټ:

-هند باید د اتومي انرژۍ نړیوالې اتحادیې ((International Atomic Energy Association(IAEA) ځارونکو او د ملګرو ملتونو د اتومي پروګرام ځارونکي ګروپ ته اجازه ورکړي تر څو د هند ملکي اتومي پروګرام ته لاسرسی ولري او د هغې ارزونه وکړي؛

-هند باید د خپلو اتومي وسلو امنیت قوي او ډاډمن کړي ترڅو مخالفینو ته په لاس ورنشي؛

-هند باید نورو هېوادونو ته د خپل اتومي پروګرام د ټکنالوژۍ د لېږد په کلکه مخنیوی وکړي او په دې برخه کې له نورو هېوادونو سره هېڅ ډول همکاري ونکړي؛

-هند به امریکايي کمپنیو ته اجازه ورکوي تر څو په دغه هېواد کې اتومي ریکټورونه جوړ کړي او د ملکي اهدافو لپاره ورته اتومي انرژي برابره کړي.

د هند د اتومي پروګرام دغه تړون د هند پارلمان، د امریکا متحده ایالاتو کانګرس او د اتومي انرژۍ نړیوالې اتحادیې له لوري تصویب شو[2].

په ۲۰۱٦ز .کال کې متحده ایالاتو، هند د" لوی دفاعي شریک "په توګه اعلان کړ .په ۲۰۱۸ز .کال کې هند ته د ستراتیژیکې سوداګرۍ د لومړۍ درجې حیثیت ورکړل شو چې پر بنسټ به یې هند کولی شي چې له متحده ایالاتو پوځي وسلې او ټکنالوژي لاسته راوړي.

په دفاعي برخه کې متحده ایالاتو او هند ځینې هوکړه لیکونه هم لاسلیک کړي دي د بېلګې په ډول :د لوجستیکي تبادلې د هوکړې یادښت(LEMOA) ، د اړیکو، مطابقت او امنیت هوکړه (COMCASA) او د صنعتي امنیت هوکړه(ISA) له ۲۰۰۸ز .کال راپدېخوا د هند او متحده ایالاتو ترمنځ دفاعي سوداګري پراخه شوې ده، دغه سوداګري په ۲۰۰۸ز .کال کې نږدې صفر وه، خو په ۲۰۲۰ز .کال کې تر ۲۰ میلیارده ډالرو ورسېده[3].

د دې ترڅنګ په ۲۰۲۴ز .کال د اګست په میاشت کې متحده ایالاتو او هند د عرضې امنیت تړون (Security of Supply Arrangement) هم لاسلیک کړ چې موخه یې په دفاعي او امنیتي برخه کې د همکاریو پیاوړتیا نبودل شوې ده .همدارنګه د ۲۰۲۵ز .په سپتمبر میاشت کې دواړو هېوادونو په الاسکا ایالت کې ګډ پوځي

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

تمرينات هم وکړل[4] او د همدې کال لس کلن دفاعي تړون يې بل هغه قدم دی چې د متحده ايالاتو او هند دفاعي او امنيتي اړيکو نږديوالی ښايي.

## د تړون موخې

۱ .**د پوځي اړيکو پياوړتيا** :دغه لس کلن دفاعي تړون د امريکا متحده ايالاتو او هند ترمنځ د پوځي همکارۍ د لا پياوړتيا لپاره رامنځته شوی دی .د دې تړون له لارې له به دواړه هېوادونه ګډ پوځي تمرينات تنظيموي او د وسله والو ځواکونو د ګډ کار لپاره به زمينه برابروي.

۲ .**تخنيکي) ټکنالوژيکي (همکاري**:د تړون يوه مهمه برخه د دفاعي ټکنالوژۍ په برخه کې د همکارۍ رامنځته کول دي .د دې تړون پر بنسټ به دواړه لوري پرمختللي دفاعي سيستمونه، سايبري وړتياوې او فضايي امنيت په برخو کې ګډه همکاري کوي، چې د معاصرو پوځي عملياتو لپاره خورا مهمې دي.

۳ .**استخباراتي او لوجيستيکي همکاري** :د دې تړون بله موخه دا ده تر څو دواړه لوري له يو او بل سره استخباراتي معلومات شريک کړي، سمندري او هوايي عملياتو ګډ پلانونه سره شريک کړي او د اړتيا پرمهال له يو او بل سره لوجيستيکي برخه کې همکاري وکړي.

۴ .**د دفاعي سوداګرۍ اسانتيا** :د دې تړون بله موخه دا ده تر څو د دواړو هېوادونو ترمنځ په دفاعي او وسلو برخه کې سوداګري اسانه شي .د دې تړون پر بنسټ به دواړه لوري د پوځي وسايلو او ټکنالوژۍ په برخه کې ګډ توليد کوي او د سوداګرۍ پر بنسټ به ځينې نور پوځي وسايل له يو او بل سره شريکوي[5].

## پر سيمه يې اغېزې

د ۲۰۲۵ز .کال په اګست مياشت کې د متحده ايالاتو ولسمشر ټرمپ له دې امله پر هند سوداګريزه تعرفه لوړه کړه چې هند له روسيې څخه تيل اخلي او روسيه بيا پر دغو پيسو په اوکراين کې جګړه کوي، د دغې تعرفې له لوړولو وروسته د هند لومړي وزير نريندر مودي غبرګون وښود او اعلان يې وکړ چې دوی د خپلو ملي ګټو په چوکاټ کې ټرمپ ته ځواب ورکړي او د روسي تيلو پېرلو ته به هم دوام ورکړي، د دې ترڅنګ نوموړي اووه کاله وروسته چين ته سفر وکړ او د شانګهای همکارۍ سازمان په غونډه کې يې ګډون وکړ، چې له امله يې د متحده ايالاتو او هند اړيکې ترينګلې او د روسيې، چين او ايران اړيکې نږدې شوې .متحده ايالات غواړي چې له هند سره د لس کلن دفاعي تړون په لاسليکولو سره دغه اړيکې ببرته ورغوي او هند په لوی لاس د روسيې او چين غېږې ته ونه غورځوي، دويم دا چې په دې وروستيو کې د متحده ايالاتو او پاکستان اړيکې نږدې شوي دي، د پاکستان لومي وزير شهباز شريف او د پوځ مشر جنرال عاصم منير څو

ځلې له ټرمپ سره لیدنې وکړې او ټرمپ هغوی نږدې دوستان یاد کړل، د متحده ایالاتو او پاکستان دغه نږدیوالي هم د هند اندېښنې راپارولې دي او متحده ایالات غواړي چې د دغه تړون له لارې د هند اندېښنو ته هم ځواب ووایي .که له تاریخي اړخه دې موضوع ته وگورو، نو هر کله چې متحده ایالات د هند او پاکستان ترمنځ یو اړخ ته نږدې شوی، نو د توازن ساتلو په موخه یې مقابل جانب ته هم ځینې امتیازات ورکړې دي .
کله چې په ۲۰۰۱ز .کال کې د سپتمبر د یوولسمې پېښې وروسته متحده ایالات او پاکستان نږدې شو او پاکستان وسلې او پیسې ترلاسه کړې، نو هند خپلې اندېښنې له متحده ایالاتو سره شریکې کړې، هماغه و چې په ۲۰۰۵ز .کال کې یې له هند سره د ستراتیژیک پارټنرشپ تړون لاسلیک کړ تر څو پاکستان ته په نږدې کېدو هند له لاسه ورنکړي، نو د دې تړون یوه سیمه اغېزه دا هم ده چې متحده ایالاتو غواړي د هند او پاکستان ترمنځ په اړیکو کې توازن وساتي او د دواړو هېوادونو ترمنځ ډیټیرینس رامنځته کړي.
د دې ترڅنگ ټرمپ اعلان کړی چې له هند سره به له مذاکراتو وروسته تعرفې بېرته راټیټې او یا هم له منځه یوسي[6] چې دا کړنه به هم د دې لامل شي چې د هند او متحده ایالاتو ترمنځ اړیکې بېرته عادي شي، البته یادونه باید وکړو چې هند د متحده ایالاتو په څېر ستر قدرت ته اړتیا لري او که دغه اړیکې بېخي خراب حالت ته لاړې شي، نو پاکستان به له دغه فرصت څخه ستره گټه پورته کړي، نو ځکه هند مذاکراتو او اړیکو جوړېدو ته حاضرېږي.
متحده ایالاتو غواړي چې په انډوپسفیک) هندي سمندر (کې چین کنټرول کړي او په دغه سیمه کې د چین اقتصادي گټو ته گواښ پیداکړي تر څو د دوی اقتصادي پرمختگ ټکنی شي او د دې کار لپاره د هند ملاتړ او همکارۍ ته اړتیا لري او دغه دفاعي تړون به وکولای شي چې په انډوپسفیک کې د دواړو هېوادونو ځارنې، پوځي تمرینات او لوجیستیکي همکاري پیاوړې کړي او دا به په سیمه کې د چین او هند مخ په ښه کېدو اړیکې یو ځل بیا ترینگلې کړي .هند په سیمه کې د چین گټو پر وړاندې ستر گواښ دی او له همدې امله متحده ایالات نه غواړي چې هند په اسانۍ له لاسه ورکړي او دغه دفاعي تړون به په جنوبي او جنوب ختیځې اسیا کې د هند او چین سیالۍ ته هم لاره پرانېزي.
دغه تړون پر پاکستان هم منفي اغېزې لري، ځکه د دې تړون له لارې په جنوبي اسیا کې د هند او پاکستان ترمنځ ډیټیرینس گډوډېږي، پوځي توازن خرابېږي او دا کار د پاکستان لپاره د اندېښنې وړ ده .البته دلته دوه خبرې د یادولو وړ دي :اول دا چې کېدای شي په دې برخه کې له پاکستان سره خبرې شوې وي او هغوی ته ډاډ ورکړل شوی وي چې دا کړنه به هغوی ته زیان نه رسوي او د هغوی په مشوره دا کار شوی وي او دویم دا چې که په دې برخه کې د پاکستان رضایت نه وي اخیستل شوی وی، نو د دې امکان شته چې

پاکستان د ډيټيرينس او له هند سره د توازن ساتلو په موخه روسيې ته مخه کړي او له چين سره خپلې اړيکې لا پياوړې کړي.

د هند او متحده ايالاتو د اړيکو پياوړتيا په جنوبي او جنوب ختيځه اسيا کې د هند پر متحدو هېوادونو هم مثبتې اغېزې لري، ځکه هغوی هم له متحده ايالاتو سره د اړيکو د جوړېدو او اقتصادي همکارۍ فرصتونه ترلاسه کوي.

د دې ترځنګ دغه دفاعي تړون به پر ايران منفي اغېزې ولري، ځکه د هند او متحده ايالاتو د اړيکو په ترينګلتيا کې د ايران ګټې دي ځکه ايران کولای شول چې له هند سره خپلې سوداګريزې اړيکې پياوړې کړي پر هند ايراني تيل وپلوري او د بنديزونو په دې دور کې يو څه اسانتيا رامنځته کړي، خو له دې دفاعي تړون وروسته چې کله د متحده ايالاتو او هند اړيکې پياوړې کېږي، نو هند اړ دی چې پر ايران لګېدلي بنديزونه رعايت کړي چې دا پر ايران منفي اغېزه لري.

## پر افغانستان يې اغېزې

د متحده ايالاتو او هند ترمنځ د لس کلن دفاعي تړون له امله د اړيکو نږديوالي پر افغانستان هم مثبتې اغېزې لري، ځکه د دغه تړون له لاسليک وروسته متحده ايالاتو د چابهار بندر د بنديزونو معافيت د ۲۰۲٦ز .کال تر اپريل پورې تمديد کړ چې له امله يې هند کولای شي د دغه بندر له لارې له افغانستان سره سوداګريزې اړيکې ټينګې کړي او اقتصادي همکارۍ وکړي، چې له دې لارې به د افغانستان او هند سوداګريزې اړيکې پياوړې شي، صادرات او وارداتو کچه به ورسره لوړه شي او دا کار به د افغانستان پر اقتصادي وضعيت مثبته اغېزه وکړي، بله موضوع دا چې په دې وروستيو کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د شخړې له امله د دواړو هېوادونو ترمنځ دروازې تړل شوي چې له امله يې افغان سوداګر او بزګران له زيان سره مخامخ دي، نو چابهار بندر کېدلای شي چې د پاکستان ښه بديل شي او سوداګر او بزګران مو له زيان څخه وژغورل شي.

هند په رسمي ډول په کابل کې خپل سفارت پرانېست او له دې سره د دواړو هېوادونو اړيکې سفارتي کچې ته لوړې شوې چې له دې  معلوميږي چې د هند خار او انتظار پاليسي پای ته رسېدلې او د اسلامي  امارت له پاليسيو او کړنو ډاډه شوی دی او له همدې امله يې له اسلامي امارت سره په سفارتي کچه تعامل پيل کړی دی، د هند او افغانستان د اړيکو د نږديوالي يو لامل د افغانستان او پاکستان د اړيکو خرابوالی دی، دا چې د هند او افغانستان اړيکې ښې شوې او په مقابل کې د هند او متحده ايالاتو اړيکې هم د دې دفاعي تړون له امله ښې شوې، نو هند کولای شي چې د متحده ايالاتو او اسلامي امارت ترمنځ د اړيکو په نږديوالي

کې هم رول ولوبوي او د متحده ایالاتو او افغانستان د اړیکو نږدیوالی طبعي خبره ده چې پر افغانستان مثبتې اغېزې لري.
البته یوه یادونه باید وکړو چې د هند او افغانستان داسې نږدیوالی په هیڅ ډول د افغانستان په ګټه نه ده چې هغه پاکستان ته ستر زیان ولري، ځکه پاکستان د افغانستان ګاونډی هېواد دی او تل یې افغانستان له همدې لارې ناامن شوی او له ستونزو سره مخامخ شوی دی، نو که پاکستان پوه شي چې په افغانستان کې د هند نفوذ مخ په ډېرېدو دی، نو د دې نفوذ د مخنیوي لپاره پاکستان له هر دول حربې او چل څخه کار اخلي چې له امله یې کېدای شي افغانستان ناامن او ثبات له لاسه ورکړي، نو اسلامي امارت ته په کار دي چې د پاکستان او هند په اړیکو توازن وساتي.

## پایله

د روان ۲۰۲۵ز .کال د اکتوبر پر ۳۱مه نېټه د هند او متحده ایالاتو ترمنځ لس کلن) ۲۰۲۵-۲۰۳۵ ( دفاعي تړون لاسلیک شو، د دې تړون موخه د پوځي اړیکو پیاوړتیا، په دفاعي برخه کې د لوجیستیکي او ټکنالوژیکي همکارۍ رامنځته کول او د وسلو په برخه کې د سوداګرۍ اسانه کول دي .
د دغه دفاعي تړون له لارې د هند او متحده ایالاتو اړیکې یو ځل بیا د عادي کېدو حالت ته روانې دي، ځکه د ټرمپ د تعرفې له امله دغه اړیکې یو څه ترینګلې شوې وې، خو اوس ټرمپ اعلان وکړ چې دغه تعرفې به راټیټې او یا هم له منځه یوسي چې دا د اړیکو د پیاوړتیا لامل ګرځي .د هند او متحده ایالاتو ترمنځ د اړیکو بیا پیاوړتیا پر پاکستان، چین، روسیې او ایران منفي اغېزې لري، خو افغانستان لپاره بیا ځینې فرصتونه لري او هغه دا چې چابهار بندر یو ځل بیا د بندیزونو له معافیت څخه وویستل شو او افغانستان کولای شي چې د دې بندر له لارې له هند سره سوداګري پراخه او اقتصادي همکارۍ راجلب کړي.

## وړاندیزونه

۱ -دا چې هند او متحده ایالات ستراتیژیک ملګري دي او د هند او اسلامي امارت اړیکې هم مخ په ښه کېدو دي، نو اسلامي امارت دې هڅه وکړي چې د متحده ایالاتو سره د اړیکو د ښه کېدو په برخه کې له هند څخه ګټه واخلي.
۲ -دا چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د شخړې له امله د دواړو هېوادونو ترمنځ دروازې تړل شوي او له امله یې افغاني بزګران او سوداګر له زیان سره مخامخ دي، نو اسلامي امارت دې هڅه وکړي چې د چابهار بندر له لارې له هند سره د سوداګرۍ کچه لوړه کړي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

۳ -له پاکستان سره د وروستۍ شخړې له امله د هند او افغانستان اړیکې نږدې شوي دي، خو اسلامي امارت باید دې برخې ته متوجې اوسي چې دغه اړیکې د دې لامل نشي چې د پاکستان اندېښنې زیاتې شي او بیا په افغانستان کې د هند د نفوذ د مخنیوي په موخه په افغانستان کې ناامني او بې ثباتي رامنځته کړي.

## مأخذونه

[1] Muhammad Muzaffar, Erum Hanif and Imran Khan. "United States Foreign Policy towards South Asia: A Critical Analysis", Pakistan Social Sciences Review Vol. 2, No. 2, December 2018, P. 60. Access link: https://www.researchgate.net/publication/342411504_United_States_Foreign_Policy_towards_South_Asia_A_Critical_Analysis

[2] Jayshree Bajoria and Esther Pan. "The U.S.-India Nuclear Deal, Council on Foreign Relations", November 5, 2010, Access link: https://www.cfr.org/backgrounder/us-india-nuclear-deal

[3] Amrita Nayak Dutta. "India, US seal 10-yr defence partnership framework, signal strategic convergence", The Indian Express, 2025, Access link: https://indianexpress.com/article/india/india-us-sign-new-10-year-defence-partnership-framework-amid-tariff-tensions-10338454/

[4] Ibid.

[5] Banibrata C."India, US to Sign 10-Year Defense Deal: What's In It for India?", 2025, Access link: https://www.vygrnews.com/international/india--us-to-sign-10-year-defence-deal--what%E2%80%99s-in-it-for-india-?

[6] India Today Business Desk. "India, US in final talks to ease import tariffs and boost trade ties: Report", 2025, Access link: https://www.msn.com/en-in/news/other/india-us-in-final-talks-to-ease-import-tariffs-and-boost-trade-ties-report/ar-AA1OWHW8?ocid=BingNewsSerp

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز نادولتي، غیر انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو د ارزونې او بډاینې لپاره فعالیت کوي.

**اړیکه:**

ایمیل: info@csrsaf.org

وب سایت: www.csrsaf.org

شمېره: +93780618000

+93780618000